نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۵/۰۲/۱۳

# د «مسجدونو اړوند ځینې خبرې او ستونزې»
## لیکنې باندې د نیوکې په ځواب کې

زه له ښاغلي حفیظ الله خالد ورور څخه مننه کوم چې زه یې په لیکنه کې د ښځو د آواز اړوند تیروتنې ته متوجه کرم. موږ ته په کار ده چې کله هم ځوک له تیروتنې سره مخ کیږي، ښه داده چې خپله تیروتنه په ورین تندي ومنې د دې پرځای چې له خپلې تیروتنې ناسمه دفاع کوي.

همدومره په کار وه چې ښاغلي خالد لیکلي وای چې په دغه ځای کې تیروتنه ده او باید اصلاح شي (د ښځې آواز اوریدل د نامحرم له پاره پرته له ضرورت څخه حرام دی.)

وړاندیز کوم چې یاده موضوع یوه علمي او فقهي موضوع ده او باید هغه له فقهي اړخه وڅیړل شي.

موږ ټول پوهیږو چې محمد صلی الله علیه وسلم د خدیجې رضی الله عنها د تجارت مالونو له پاره شام ته سفر کړی، او همدا لامل شو چې د بي بي خدیجې رضی الله عنها سره یې نکاح وتړل شوه.

کله چې محمد صلی الله علیه وسلم او حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه له مکې نه مدینې ته د هجرت له پاره روان ؤ، د ام معبد رضی الله عنها په خیمه کې په داسې وخت کې ورغلل چې د هغې خاوند نه ؤ، له هغې نه یې پوښتنه وکړه چې د خوراک له پاره شیدې شته؟ او بیا د ام معبد د بزې خبره ده چې الله پاک یې غولانځه له شیدو ډکه او محمد صلی الله علیه وسلم او ابوبکر صدیق ښه په مزه سره وڅښلې او ام معبد ته یې ورکړې.

د حدیثو د پوهانو له نظره د محمد صلی الله علیه وسلم د څیرې اړوند چې کوم احادیث رانقل شوي تر ټولو د ام معبد حدیث ته ترجیح ورکول کیږي چې د محمد صلی الله علیه وسلم څیره او د هغه حالت یې پکې ډیر په روښانه ټکو ځرګند کړی دی.

حضرت عایشه رضی الله عنها وایي چې یوه ورځ یوه بوډۍ ښځه زموږ کورته راغله او محمد صلی الله علیه وسلم یې ډیر زیات قدر او احترام کاؤ، خپل ځای یې هغې ته پریښود، په خپل لاس مبارک یې شیان ورته را اخستل او ورکول، عایشه مبارکه وایي چې زه ډیره زیاته حیرانه شوم چې ولې محمد صلی الله علیه وسلم د دې بوډۍ ښځې دومره زیات قدر او احترام کوي، پوښتنه مې وکړه بیا د الله نبي صلی الله علیه وسلم وویل چې دا د حضرت خدیجې رضی الله عنها ملګرې ده، او ځکه په ما دومره ګرانه ده.

له دې ها خوا محمد صلی الله علیه وسلم له زړو ښځو سره ټوکې هم کړي چې مشهوره یې هغه ده چې بوډۍ جنت ته نشي تللای، هغه بوډۍ ښځه ډیره خفه شوه، بیا محمد صلی الله علیه وسلم ورته وویل چې په جنت کې به ټولې ښځې ځوانې وي.

د احد په غزا کې د محمد صلی الله علیه وسلم څخه یوې میرمنې صحابیې ام عماره رضی الله عنها دفاع کوله او په جهاد کې یې عملاً برخه درلودله، او محمد صلی الله علیه وسلم هغوئ ته دعا کړې. نه داچې منع یې کړې بلکه هغوئ یې ستایلې دي.

د خلفاء راشدینو او صاحبه ؤ په وخت کې همداسې ډیرې بېلګې شته، چې د لیکنې د اوږدوالي له امله یې همدومره کافي بولم.

د افغانستان په تأریخ کې خو موږ ټول پر دې وياړو چې د ملالې میوندی لندی وه چې مجاهدینو په انګریز لښکر برې وموند

که په میوند کې شهید نه شوې خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

زه بیاهم وایم چې انسان عاجز وي، موږ انسانان یو خطاوې او سهوې لرو، نه زه مفتي یم، نه ملایم، او نه هم عالم یم، نه هم زما په خبره او زما په حکم خلک د ښځو آواز حرام ګڼي او نه یې جایز ګڼلای شي، د ښځو د آواز اړوند علماؤ خپل نظرونه ورکړي او په کار ده چې په دې اړه دعلماؤ او فقهاؤ نظرونه هم تر نظر تیر کړو.

دلته زما په لیکنه کې خبره د مسجدونو ده، او زه د مسجد له دائیرې څخه نه یم وتلی، عامه خبره مې نه ده کړې چې د ښځې آواز اوریدل نامحرم ته مطلق حرام دی، داچې ښځې په مسجدونو کې د سوال له پاره ډیر په زوره آوازونه کوي او یا ژړاوي، همدې ته مې اشاره کړې، او ښه به داوای چې دومره سخت الفاظ نه وای کارول شوې، ځکه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

حرام هغه دي چي د الله په کتاب او د محمد صلی الله علیه وسلم په احادیثو کي صریح حکم وي. خو داچي د لته د مسجد اړوند خبرې وي، نو زما د بې توجهي له امله د حرام لفظ کارول شوی. او همدا لیکنه مخکي له خپراوې څخه د دیني عالمانو تر نظر هم تیره شوې، ځکه حساسه موضوع وه، ما هم پکي ډیر له احتیاط څخه کار اخستی، مگر همدې تیروتني ته د هغوئ هم پام نه دی شوی، که داسي لیکل شوي وای چي د ښځو په زوره ژړا او آواز ناسم کار دی، ځکه د لمونځ کوونکو توجه اړوي، دغه الفاظ زما د لیکني له پاره مناسب ؤ.

ځیني علماء وایي کله چي د ښځي له آوازه اوریدلو څخه فتنه پیداکیږی او یا د لذت له پاره د ښځي آواز اوریدل وي، دغه ډول عمل جواز نه لري، او دا ډول د ښځي خبرې په اجتماع کي کول هم علماؤ یې ښېل ښېل اړخونه څیړلي دي.

فقهاؤ د ښځي د آواز آوریدل د نارینه ؤ له پاره مختلف نظرونه ورکړي، مگر صریحاً یې د حرام حکم نه دی کړی، خو دفتني له امله یې په ځینو ځایونو کي د ښځي د آواز اوریدل نارینه ته جواز نه دی ورکړی، او مهمه خبره پکي د ځواني او زړې ښځي هم شوې.

د ښځو شتون په پارلمان کي او د هغوئ څرگندېدل په تلویزون، د ښځو خبرې په ټلیفون، د ښځو بازارته وتل او سودا له نارینه څخه اخستل، د دې ټولو اړوند علماؤ خپل نظرونه ورکړي ښه داده چي مراجعه ورته ؤشي، او ځان پرې پوه کړو.

مهمه داده چي ټولني او سیمو ته په نظر کي نیولو سره هم علماؤ بېلابېل نظرونه ورکړي، په سعودي او عرب هیوادونو کي د میرمنو له پاره بېل او ځانګړي مسجدونه جوړ شوي، مگر په ترکیه کي بیا یو مسجد وي، خو په هغه مسجد کي د ښځو له پاره ځای ځانګړی شوی، او بېل مسجد نه شته.

د محمد صلی الله علیه وسلم په وخت کي او د خلفاء راشدینو په وخت کي هم میرمني مسجدونو ته په امام پسي د جماعت د لمونځ اداء کولو له پاره تللي.

د اسلامي ګوندونو په لویو غونډو کي میرمني بیانیې ورکوي، او کله خو نجوني پکي د تکبیر ږغونه هم کوي، سپین ژیري علماء د میرمنو لویو مجموعي ته تدریس کوي، او دا ډول د مسلمانانو په تأریخ کي میرمنو تجارتي معاملي سرته رسولي، او تجارت پرته له خبرو او یو بل سره د آواز اوریدو شونی نه دی.

په اسلامي شریعت کي د ښځي د غږ په اړه په قرآن کریم ، نبوي احادیثو او فقهي کتابونو کي ښکاره او تفصیلي احکام بیان شوي. په قرآن کریم کي الله تعالی امهات المؤمنین ته امر کوي چي :

فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ وَقُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوفًا (۳۲) الاحزاب

ژباړه: .... په خبروکي ناز و نزاکت مه کوئ (ځکه) بیا به هغه کس په تمه کې پریوځي چي زړه کي یې رنځ وي.او سمه (ځیره) خبره کوئ.

دلته که څه هم چي په ایت کریمه کي امرخاص امهات المؤمنین (درسول اکرم میرمنو) ته شوی خو حکم یې عام دی چي باید ټولي مسلماني ښځي له نامحرمو سره د خبرو پرمهال په غږ کي له ناز او نخرو پرته زیږې خبرې وکړي.

له فقهي اړخه له دې مبارک ایت شریف څخه لاندې احکام استنباط شوي:

له ضرورته پرته له نامحرم سره خبرې ونه کړي.

د ضرورت په مهال باید په نازکه او نرمه لهجه خبرې ونه کړي.

امام قرطبي رحمه الله د همدې ایت شریف په تفسیرکي وایي چي د ښځي آواز په عام ډول عورت نه دی، خو که د فتني ویره وه بیا عورت دی او اوریدل یې جواز نه لري.

د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په مبارکو احادیثو کي هم د ښځي د آواز په اړه تفصیلي احکام راغلي د احادیثو په تر ټولو معتبرو کتابونو صحیح البخاري او صحیح مسلم کي په متفق علیه روایت کي داسي حدیث شریف راغلی:

وعن أبي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قالَ:

قالَ رسولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ: ((التَّسْبِيحُ لِلرِّجَالِ، وَالتَّصْفِيقُ لِلنِّسَاءِ)). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ژباړه: له ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

تسبیح د نارینه ؤ لپاره او لاس ټکول د ښځینه وو لپاره دی.

د دې حدیث شریف په تشریح او تفصیل کي محدثین کرام فرمایي چي یو مهال رسول اکرم د عمرو بن عوف د زامنو ترمنځ د صلحي کولو لپاره تللی وه او هلته وځنډیده، په مسجد نبوي کي حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د امامت لپاره مخته شو، خو کله چي رسول اکرم مسجد نبوي ته داخل شو نو په مسجد کي په لمانځه ولاړو صحابه کرامو د لاسونو په ټکولو (یوپربل وهلو) سره حضرت ابوبکر صدیق ته دا ورفهموله چي ګواکي رسول الله راغلی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

هماغه وه چي ابوبکر صديق له محراب څخه د راشاته کيدو هڅه وکړه خو رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه ته اشاره وکړه چي په خپل ځای پاتي شي او راشاته نشي، مګر ابو بکر صديق راوروسته شو او امامت يې رسول الله ته پريښود.
له لمانځه وروسته رسول اکرم صلی الله عليه وسلم صحابه کرامو ته وويل:
د لمانځه پرمهال که لمونځ کوونکی ته څه پيښه ؤشي نو نارينه دي سبحانه الله وايي او ښځي دي دسبحان الله ويلو پرځای تصفيق کوي. تصفيق يولاس پربل لاس وهل چي غربيي پورته شي.
البته دغه تسبيح الرجال او تصفيق النساء د لمانځه کولو پرمهال وي، خو د محدثينو په نزد له دي حديث شريف څخه بغير له ضرورته د ښځي د آواز محذوريت معلوميږي چي د لاس په ټکولو سره ضرورت رفع کيږي نو د نارينه ؤ په څير يي په غږ کي تسبيح ويلوته اړتيا نشته.
له دی وجي څخه چي د ښځي په آواز پوري د فتني ويره تړلي نو په اسلامي شريعت کي د ښځي امامت، د ښځي آذان کول، په حج او عمره کي په لوړ آواز د تلبيي ويل نسته.
د جمهورو علماؤ په نزد د ښځي آواز عورت نه دی خو هغه څه چي د ښځي په آواز کي جواز نه لري هغه خضوع او نرمي ښودل دي چي فتنه تري راپورته کيږي.
په مسجدونو کي د ښځو د عادي سوال کولو په اړه بايد وويل شي چي په شريعت کي مطلق سوال هغه که د نارينه لپاره وي او که د ښځينه لپاره، که په مسجد کي وي او که له هغه نه بهر بي له ضرورته منع دی.
دغه ممنوعيت درسول اکرم صلی الله عليه وسلم له لاندي حديث څخه مستنبط دی.
عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :من سمع رجلاً ينشد في مسجد ضالة، فليقل: لا ردها الله إليك؛ فإن المساجد لم تبن لهذا ) رواه مسلم
ژباړه: له حضرت ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی چي هغه وايي:
رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي څوک چي په مسجد کي د خپلي ورکي غوښتنه کوي نو د هغه په ځواب کي بايد وويل شي چي خدای دي نه در پيداکوي، ځکه مساجد د دغو کارو لپاره نه دي جوړ شوي.
فقهاء کرام له دغه مبارک حديث نه په استنباط سره هر هغه څه چي له عبادت او روح د عبادت سره منافي وي په مسجد کي تر سره کول ناسم بولي. لکه په مسجد کي سوال کول، بي ضرورته په مسجدونو کي خبري کول، له مساجدو څخه د شخصي کارونو لپاره استفاده کول...
داچي په مساجدو کي د نارينه ؤ لخوا د غير تعبُدي کارونو تر سره کول ناسم دی نو په هغو کي د ښځمنو سوال کول، د سوال ترڅنګ په لوړ غږ ژړل چي د نورو ستونزو ترڅنګ د لمونځ کوونکو د مزاحمت او د هغوئ د ذهني فراګندګي لامل ګرځي له شرعي اړخه په طريقه اولی سره ناسم دی.
زما د ليکني اصلي هدف هم په مسجدونو کي د ناسمو کارونو ترسره کولو په اړه ده. نه د ښځمنو د مطلق آواز حراموالی. د ناسمو کارونو په جمله کي په مسجدونو کي د ښځمنو سوال او په زور ژړل هم راغلي چي د سوال کوونکو ښځو دغه کار د شرعي محذوريتونو په سياق کي حرام بلل شوی.
داچي محترم ورور حفيظ الله په ټولنيزو کارونو کي د ښځي د ګډون خبره ياده کړې دا بېله موضوع او د اسلام په مبارک دين کي په ټولنيزو کارونو کي د ښځو مشارکت په اړه د اسلامي فقهاؤ څرګند نظريات موجود دي.
ښځه د بشري ټولني د نيمايي برخي په حيث په اسلام کي خپل مقام او منزلت لري او د دغه منزلت کيفيت او کميت په قراني نصوصو، نبوي احاديثو او اسلامي فقه کي پوره واضح شوي .
د هماغو ټولو خلاصه او مجموعه داده چي په ټولنيزو کارونو کي د ښځي مشارکت د اسلامي احکامو د محدوديت په رعايتولو سره د ټولنيز ضرورت د رفع کولو لپاره جائز او کوم حرج نه لري .
هغه مشارکت که قولي وي او که فعلي بايد د شريعت احکامو په چوکاټ کي وي، او که د هغه رعايت نه وي، بيانو د ښځو د آواز، او بدن د پټوالي (حجاب) په اړه دومره ټينګار شوی چي په تعبُدي اعمالو لکه امامت ،اذان، قضاء...کي هم د دوی برخه اخيستل له شرعي اړخه منع دي.
پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ